دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی : عزیزاحمد خوارمل

# نړیوالوپرجورج بوش باندی دبوټونوګزارونه يې وستايل اودهغه نه يې هرکله وکړ!

دبوش او دعراق دلمړی وزیرمالکی دخدای په امانی اومخه ښه په مراسموکښې عراقی خبرلیکوونکی دخپل یوه جوړه بوټونو په وارکولوسره پرجورج بوش باندی دخدای په ا مانی اودمخه ښه په مراسموکې يې د مچولواوښکلولوانځوريی دده پرتن باندی وکرل ! هغه مچي چي ممکن د دموکراسی اوهغه سوله اوارامتیا چې دامریکا دولت دعراق وملت ته يې وربخښلی دی (!) دېرلړ شی دی .

عراقی خبرلیکوونکی چې خپل دپښویوه جوړه بوټونه يې دبوش پرخوا ورګوازکړل ،یوه دېره لړه دزړه خبره دهغه ټولو « پښو لڅو» اوترظلمونواوستم لاندی مظلومو عراقیانوڅخه وو چې دامریکایی یرغلګرو نظامیانواوځواکونوپه یرغل سره،عراقی ولس دخپل ژوندون اوټولوانسانی اړیکوڅخه بې برخي سول . څو ورځې مخکې نړیوالو دیوه جوړه بوټ دپیښي ګزارونه يې نوي انتفاضه وبلله اوهغه يې وستایل . دیک شنبی په ورځ کله چي جورج بوش دخداپه امانی اړمخه ښه په سفر وجګړی ځپلی عراق ته دامریکا دغلطو ، ناکامو اوناسموسیاستونوپه هکله هغه هیوادته تللی وو.

دیو عراقی خبرلیکوونکی لخوا چي دالبغدادیه دتلویزیونی شبکي کارکوونکی وو دبوټونوپه وارکولو دخشمه ډکه مخه ښه اودخدای په امانی مچه (بوسه) سره وبوش ته يې ښه راغلاست وویل اوپه همدی ډول سره دعراقیانو دوروستینی ښکاره عکس العمل دسرلیک په ډول يې دسپینی مانۍ ورئیس ته خپله کرکه دبوټونوپه واره ولوسره وروښودل اودغه پیښه يې دعراق اودنړی په پیښلیک (تاریخ ) کې په ثبت ورسول .



لطفأ ددی پیښی ویدیویی کلیپ ،انځورونه دلته په یوټوبی کې وګورې



http://landofpersia.com/article.php?id=33520

عراقی خبرلیکوونکی په دغه کړنی سره چې هیڅکله هم نه پخوا اونه په اوس کې تردغه پیښی پوری دغسی پیښه  نه وو رامنځته سوی دخپلوبوټونوسره په خپله بوش یې نښان نیولی وو اوخپل بوټونه یې دهغه پرلور ورګزارکړ.

هرڅونی چې بوش زیاریې ویست وخاندی او ترڅودغه پیښه مسخره وبولی اوبی اهمته یې وښهی،مګر ټول نړیوال خبری رسنی دغه پیښه اودغه اوسنی کړکیچ یې چې دجورج بوش اصلی میراث ګڼل کیږی ددی پیښی په توضیح کولواوپه واضیح کولوکې یې  دورځې دیومهم تاریخی  پیښی دسرلیک په لیکلوسره لاس پوری کړ.

د امریکا دفکس نیوز تلویزیونی شبکې دغه پیښه یې یوه بی سابقه پیښه وبلل اودبوش سملاسی  عکس العمل یې ددی مسئلی په وړاندی بربنده وڅیړل اودغه پیښه یې دښاغلی جورج  بوش ډیر ښه تش ځای تعریف کړل اووې ستایل اوعراقی خبرلیکوونکی یې دمجازاتووړ وبلل . دفرانسی تلویزیونی شبکې فرانس (۲۴) ځلرویشت اودیورونیوز تلویزیونی شبکې هم دغه پیښه یې په خاص ډول سره خپور کړ اووی ښودل .دانګلیس تلویزیونی شبکې هم دخپلوخبرونوپه لمړی برخه    کې دغه پیښه یې خپورکړاودعراقی خبرلیکوونکی دغه کړنه یې یوه دښمنانه راغلاست وبلل اوددی تلویزیونی  شبکې خبرلوستونکی دعراقی خبرلیکوونکی دغه کړنه یې یوډول دعراق دښکیلاک اودیرغلګرود واک   لاندی راوستل یې ،دغندنی په توګه یې چې دامریکایی ځواکونولخواترسره سوی دعراق دخلکودښکاره احساس اوکرکی په ډول سره یې جورج بوش ته راغلاست وویل اودی یې وستایل .

بی بی سی   هم ددی کړنی پرپیغوررکول سره سره یې ټینګار   وکړچې دعراقی خبرلیکوونکی دغه پیښه یې رامنځته کړ هغه یې دبوش دخدای په امانی اودمخه ښه سفر وګڼل اوخوځلی یې دغه پیښه وښودله . دالجزیری انګلیسی  ژبی شبکې خبرلوستونکی اوژورنالیستې چې دعراقی خبرلیکوونکو اوهم ددغه خبرلیکوونکی سره یې ډیره دوستانه اودملګرتیا اړیکی یې   درلودل دعراقی خبرلیکوونکوسره یې مصاحبه وکړ اودغه ټولوخبرلیکوونکو په ټینګار سره یې وویل : دبوش درواغ ویل  تردی اندازی پوری وو چې عراقی خبرلیکوونکی الزیدی دځان کنټرول دلاسه ورکړی، نو پربوش باندی

دخپلوبوتونوسره ګزارونه وکړی . سی ان ان دامریکا تلویزیونی شبکې خبرلوستونکی وویل : بوش نه دا چې یوازی ددی بوتونودګزارونوسره کوم تاوان یې لیدلی وي بلکی دیوګړندی عکس العمل سره دغه اوضاع اووضعه یې په خپله ګټه سره راوګرځول او دعراقی خبرلیکوونکی دغه عمل یې یوزیاردراتول سوی خلکو دتوجود پاره یې وبلل .

په بغدادکې دسی ان ان خبرلیکوونکی په دی اړه په ټینګار سره وویل سربیره پردی چې دبوش خبری اووینادعراقی خبرلیکوونکی خشم اوقهریې راوپاره ول اودغه عراقی خبرلیکوونکی په خپل دغه کړنی سره چې دځانه یې وښودل ،دا ددېره خشم اونارضایتیوله کبله څخه دی چې دبوش دکړنوڅخه دیو لوی میراث په توګه دعراق وخلکو ته ورپاته سوی دی .



دالعربیه تلویزیونی شبکې دعراقیانودتفسیرپربنسټ وویل الزیدی دعراق دالبغدادیه دتلویزیونی شبکې د خبرلیکوونکی په هکله یې وویل : کله چې دصدام نظام ونړیدی دعراق خلکودخپلوبوتونودګزارونوسره دصدام پرمجسمی باندی خپل خشم اونفرت یې دعراق ددیکتاتورپه نسبت وښودل .

دترکیی خبری تلویزیونی شبکې په یو خبرکې دعراقی خبرلیکوونکی دغه کړنه یې دیوه ناکامه یرغل ترسرلیک لاندی چې پرجورج بوش باندی ترسره سو خپورکړ اوپه دی هکله یې وویل : جورج بوش په خپل پټ سفر سره وبغداد ته ،په داهسی حال کې چې هیله مندوو هغه څه چې اوس مهال دعراق دامنیتی اوضاع بدلون ورته ویل کیږی ددغه حالت څخه تبلیغاتی ګټه پورته کړی ،مګر دیوعراقی خبرلیکوونکی تریرغل لاندی راغی .

د(ینی شفق )ورځپانی هم په همدی ډول سره دغه خبر یې چې ، دامریکا جمهورئیس دبوټونوتربمبارډ لاندی ترسرلیک لاندی خپورکړاودخبرپه پای کې یې ولیکل :دغه عراقی خبرلیکوونکی څومیاشتی مخکی په عراق دیوی وسله والی ډلی لخوا تښته ول سوی وو.




دالقدس عربی ورځپانی چې په لندن کې خپریږی دعراقی خبرلیکوونکی یرغل یې دمخه ښه اودخدای په امانی مچه ،ترسرلیک لاندی ولیکل اوخپوریې کړ. الشرق الاوسط چې دسیمی یوه نامتوورځپانه ده په دی هکله یې ولیکل : دیوعراقی خبرلیکوونکی بوټ بوش یې په بغداد کې غافلګیره کړ.القبس کویتی ورځپانی تردذی لیک لاند ی چې بوش دعراقی خبرلیکوونکی دبوټونودګزارونوڅخه روغ رمټ راووت دغه مطلب یې تردغه سرلیک لاندی خپور کړ .

دا په داهسی حال کې دی چې دعراقی خبرلیکوونکی هغه بوټونه چې دامریکا دجمهورئیس پرخوا ګزارشوی دی ، په یوی انټرنیټی شبکې کې دمزایده په ډول سره (۵۰۰۰۰۰ ) پنځه سوه زره ډالره قمیت ګزاری سویدی .اودا لمړی ځل دی چې یونامملموسه شيء په انټرنیټ کې و مزایدی ته کښیښودل کیږی اود«منتظر الزیدی» اود «بوش» انځورنه هم په دی مزایدی کې دپوټونوترڅنګ ایښودل سویدی .همدارنګه دعراق دخلکو په یو خوزښت سره اوددی عراقی خبرلیکوونکی په ملاتړ سره یوسترلاریون ترسره سوددی لاریون ګډون کوونکو اوتولو برخوالوخپل بوټونویې په لاس کې نیولی وه اودشعارونوپه انتقاله ولوسره ددغه پیښه نه دملاتړپه توګه په دغه لاریون یې پیل وکړ.اوپه حین حال کې دالبغدادیه دتلویزیونی شبکې رسمی ویاند وویل : مورڅپل دخبرلیکوونکی دسرلیک څخه خبرنه یواوهیڅ ډول معلومات په دی هکله نلرواوحتی په دی هم نه پوهیږوچې چیری بندی اوپه کوم جیل کې دی«عبدالحمید الصائح» دخپل خبرلیکوونکی نیول یې چې دعراقی امنیتی ځواکونواودامریکایی ځواکونولخوادهغه نیول ترسره سوی او اوس مهال ترنظارت لاندی دی دیوی پوښتنی په ځواب کې چې دغه کړنه مخکی پلان سوی وواوکه نه وو پلان سوی په دی هکله یې وی ویل : مورډده ددی پریکړی نه خبر اواطلاع مونه درلود اودی دالبغدادیه دتلویزیونی شبکې دپاره ددی غونډی دخبردراجوړه ولواودراتولودپاره تللی وو. اودالبغدادیه تلویزیونی شبکې ددی پیل وروسته یې په یوی بیانی کې یې په اشاری سره وویل داچې دامریکا حکومت ځان ددموکراسی اودآزادی پلوی بولی نوهرڅه ژرتره هیله مندیوچې ددی شبکې خبرلیکوونکی دی خوښی کړی سی . /

اخیځلیک- دفارس نیوزڅخه

- دقطرنیوزڅخه